مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۶/۰۶/۰۳

# غـزل

بې له وېره انځور نشته ائينو کښې
ځکه وينو خپلواکي په ځنځېرو کښې

هر سړي ته د بې دينه په شان ښکارو
د دوئ دين دی صرف په ږېره او تسبو کښې

چې خپل واک ته ورسېږي سوله غواړي
بې له واکه خوښوي ژوند په جګړو کښې

د بل جنګ کښې دې مدام يم سوځولی
تا ليدلي خپله ګټه په پردو کښې

ورته ګوري چې غلام پسې روان دي
حتوپير نشته دلته مړو او ژوندو کښې

هيڅ ګيله له بل چا مه کړه پسرليه
پښتو نه ښکاري د نن په پښتنو کښې

مصطفی پسرلی

11/April/2026



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ